


اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۲۳ | مسلسل نمبر: ۱۱۳

سه شنبه، د ربيع الاول ۱٦مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج پرانيسته وکړه



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس کې ګډون وکړ



۲ مه صفحه

## د ۹۴۰۷ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد تفاهمنامې او قراردادونه لاسليک شول




۳مه صفحه




د برېښنا په شتون کې هېوادونه کولای شي له معاصرې ټکنالوژۍ څخه پوره ګټه پورته کړي. نن سبا که حکومتولي ده او يا هم سوداګريزې چارې، روغتيايي يا کرنيز وسايل ټول له برېښنا پرته نه شي چلېدلی. له همدې امله که حکومتونه غواړي خپلې اداري او مالي پروسې اسانه او چټکې او دا پروسې روڼې او له فساده پاکې کړي، نو په کار ده چې لومړی د برېښنا غم وخوري او چمتو يې کړي. اوسمهال نړۍ کې زياتره سوداګريزې چارې د نوې ټکنالوژۍ پر مټ لکه انټرنټ مخ ته ځي، خو برېښنا چې نه وي، بيا د انټرنټ کارول ناشوني دي. دغه راز پرمختللي روغتيايي او کرنيز وسايل د برېښنا په مرسته کار کوي، له برېښنا پرته يو هېواد نه شي کولای له دغو پرمختللو وسايلو څخه د ناروغيو د کنټرول او يا هم د کرنې د پرمختګ په برخه کې ګټه پورته کړي. نو معلومه شوه چې اقتصادي وده او پرمختګ له برېښنا پرته امکان نه لري؛ حکومتونه بايد له خپلو هغو سرچينو څخه چې کولای شي برېښنا توليد کړي، په بشپړ ډول استفاده وکړي. اسلامي امارت همدې ټکي ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي چې له دې ګامونو څخه يو هم په کابل کې د « د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکټور ملاتړ» تر سرليک لاندې د دوه ورځني کنفرانس جوړول دي. د دغه کنفرانس موخې د افغانستان برېښنا سکټور کې د پانګونې د وړتيا او موجودو فرصتونو معرفي کول، د کورنيو او بهرنيو پانګوالو دوامداره جلب او جذب، د ستونزو پېژندنه او د مناسبو حل‌لارو وړاندې کول، د تخصصي پوهې لوړول، د دولتي او خصوصي سکټور او نړيوالو برېښنا بنسټونو ګډ کار او همغږي او د برېښنا د سيمه‌ييز اتصال لپاره د زمينې برابرول وو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان برېښنا سکتور د پراختيا لپاره د کورنيو او بهرنيو پانګوالو د جلب او جذب، د پانګونې موجودو فرصتونو د معرفي کولو، د ننګونو د څېړلو او د غوره حل‌لارو وړاندې کولو او هر اړخيزو بحثونو په اړه د دغه کنفرانس جوړېدل مهم وبلل او هيله يې څرګنده کړه، چې دغه کنفرانس به د تطبيق وړ پايلې ولري.

نو که چيرې موږ د برېښنا د توليد په برخه کې له ټولو شته سرچينو ګټه پورته او په دې برخه کې پانګونه جلب او جذب کړو، د داسې کنفرانسونو په جوړولو سره پانګوال وهڅوو او په دې برخه کې شته ننګونو ته پای ورکړو، لرې نه ده چې افغانستان به د برېښنا په برخه کې نه يوازې د خپلې اړتيا وړ برېښنا توليد کړي، بلکې اضافي برېښنا به نورو هېوادونو ته هم صادره کړي. د برېښنا د اړتيا په پوره کېدو سره به د صنعت په ګډون زموږ ډېری سکټورونه پرمختګ وکړي او له بل پلوه به د صادرې شوې برېښنا له درکه د پام وړ عوايد د حکومت خزانې ته جمع شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه
ابادي
هفته نامه آبادی

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج پرانيسته وکړه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولايتونو ته د خپل سفر پرمهال د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ســنبلې مياشتې په يوولسمه نېټه د سرپل ولايت په بلخاب ولســوالۍ کې په مســلکي ډول د بلخاب ډبرو ســکرو کان د اســتخراج او د کانونو ترمنځ د نښلېدونکو سړکونو پرانيسته وکړه.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال په همدې مناسبت د بلخاب ډبرو ســکرو کان کې جوړ شــوو مراسمو ته وويل، افغانستان د بېلابېلو طبيعي زېرمو له اړخه غني هېواد دی او دغــه زېرمې د اوږدمهاله زېربنايي پروژو د تمويل، د صنعتي پرمختــګ او د ملي عوايــدو د ستړي سرچينې په توګه له اساسي او ستراتيژيک ارزښت څخه برخمنې دي، چې په مسلکي استخراج سره به يې د اقتصادي او تولنيز پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخلو.

محترم ملا صاحــب زياته کړه، په هېواد کـــې له موجودو طبيعي زېرمو څخه د اعظمي استفادې په موخه بايد يوازې د خامو موادو پر صادراتو اکتفاء ونه کړو؛ بلکې د هېواد دننه د پروســس او توليد فابريکې جوړې کړو ترڅو کاري فرصتونه زيات او داخلي صنعت قوي کړو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د بلخاب ډبرو سکرو کاني حوزه د هېواد لـــه مهمو او غني زېرمو څخه ده، چې د ملي پراختيا شرکت له لوري يې د اســتخراج پروسه تر دې دمه ښه روانه ده. هغه زياته کړه، د ملي پراختيا شرکت د دغه کان د استخراجي چارو د تسهيل او تسريع په موخه له ۲۰۰ کيلومتره زيات سړکونه په معياري توګه جغل اندازي کړي، چې د بلخاب ولســوالۍ د ډبرو ســکرو کانونه يو له بل سره نښلوي. د هغه په خبره، په دې سره به کارګران او قراردادي شرکتونه د کان کيندنې چارو ته په سمه توګه رسېدنه وکړای شي.

مــحترم ملا عبدالغني برادر اخونــد د ملي پراختيا شرکت د مسوولينو له هڅو مننه وکړه او له هغوی يې وغوښتل چې د استخراج چارې لا ډېرې معياري، له هر ډول ضايعاتو څخه مخنيــوی ترسره او د چاپېريال ســاتنې معيارونه په پام کې ونيسي. همـــداراز محترم ملا صاحب د بلخاب ولســوالۍ اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د دوی د اړتيا وړ د ډبرو سکاره به په کم قيمت دوی ته ورکول کېږي او همداراز به دوی ته د ســړکونو، روغتونونو او نورو برخو کـــې هم تولنيز خدمات لا زيات شي.

په پای کې محترم حاجي ملا صاحب د سرپل والي او ځايي مســوولينو ته لارښوونه وکړه چې په وخت سره د بلخاب له ولسونو سره ناستې وکړي، د هغوی ستونزې واوري او د حل هڅې يې وکړي.

د يادونې وړ ده چې د ملي پراختيا شرکت له لوري د بلخاب ډبرو سکرو د مسلکي اســتخراج لپاره شاوخوا ۱۰۰ صوفونه کيندل شوي، چې اوسمهال پکې له دوه زره زيات هېوادوال په مســتقيم ډول په کار مصروف او په کلني ډول ترې ۵۰۰ زره ټنه سکاره اســتخراجيږي. له دې کان څخه استخراج شوي د ډبرو سکاره به په کورنيو فابريکو کې د انرژۍ توليد او د صنعت د پراختيا ترڅنګ د هېواد واردات هم زيات کړي او د کاري فرصتونو په زياتولو سره به د بېوزلۍ کچه راټيټه او په لويه کې به د هېواد اقتصاد ورسره پياوړی شي.

# محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکتور ملاتړ کنفرانس کې ګډون وکړ

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ســنبلې مياشتې په ۱۵مه نېټه د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکتور د ملاتړ تر سرليک لاندې جوړ شــوي کنفرانس کې ګډون او وينا وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت په انټرکانټيننټال هوټل کې جوړ شوو مراسمو ته وويل، له نېکمرغه افغانستان د لويو، متوسطو او کوچنيو پانګونو لپاره پراخ او لوی ظرفيتونه لري او د توليدي منابعو د خامو موادو د کافي ذخايرو درلودلو له امله غني هېواد بلل کېږي.

محترم ملا صاحــب زياته کړه، افغانســتان د نورو زېرمو ترڅنــګ د اوبيزې، بادي او لمريزې برېښــنا پراخې منابع لــري، چې له يـــادو منابعو څخه ګټه اخيســـتنه نه يوازې افغانستان د برېښنا په برخه کې خودکفايي ته رسوي؛ بلکې نـــورو هېوادونو ته هم د انـــرژۍ د صادرولو ظرفيت رامنځته کوي.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال د افغانستان برېښنا ســـکتور د پراختيا لپاره د کورنيو او بهرنيو پانګوالو د جذب، په برېښنا سکتور کې د پانګونې موجودو فرصتونو د معرفي کولو، په دغه سکتور کې د ننګونو د څېړلو او د غوره حللارو وړاندې کولو او هر اړخيـــزو بحثونو په اړه د دغه کنفرانس جوړېدل مهم وبلـــل او هيله يې څرګنـــده کړه، چې د دغه کنفرانس به د تطبيق وړ پايلو په ترلاســـه کولو سره په ښه ډول پای ته ورسېږي.

په پـای کې مـحترم ملا عبدالغني برادر اخونـد پر ټولو هېوادونو، نړیوالې ټولنې او نړیوالو مالي بنســـتونو غږ وکړ، چې نور دې پر افغانستان لګول شوي مالي او بانکي محدودیتونـه پـای ته ورسـوي. د هغه پـه خبره، دغو محدودیتونو په افغانســتان کې د بهرنۍ پانګونې پر بهیر ناوړه اغېز کړی او دا د افغانستان، سیمې او نړۍ په ګټه



نـه دي. د یادونــې وړ ده چــې «د پانګونــې جذب او د افغانســتان د برېښنا سکتور ملاتړ» تر سرلیک لاندې جوړ شــوي کنفرانس کې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې محترمـو غړو، د ازبکســتان او ترکمنســتان هېوادونو د انـرژۍ وزیرانـو، په افغانســتان کــې د ملګـرو ملتونو اســتازولی، نړیوال بانک، د اســیا پرمختیایي بانک او د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام او یوشمېر سفارتونو استازو، د کورني او بهرني خصوصي ســکتور مسوولینو، غیر دولتي سازمانونو او د نوي کېدونکي انرژۍ ملاتړو بنسټونو استازو ګډون کړی و. د دغه کنفرانس موخې د افغانستان برېښنا ســکتور کې د پانګونې د ورتیا او موجوده فرصتونو معرفي کول؛ په دغه ســکتور کــې د کورنیو او بهرنیــو پانګوالو دوامداره جذب؛ په دغه ســکتور کې د ستونزو پېژندنه او د مناســبو حللارو وړاندې کول؛ په برېښـنا ســکتور کې د تخصصي پوهې لوړول؛ د دولتي او خصوصي ســکتور او نړیوالو برېښــنایي بنسټونو ګډ کار او همغږي او د برېښنا د سیمه‌ییز اتصال لپاره د زمینې برابرول و.

## د ۹۴۰۷ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید تفاهمنامې او قراردادونه لاسلیک شول




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضـور کې نن د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۱۵مه نېټه په انترکانتیننتال هوټل کې د پانګونې جذب او د افغانســتان د برېښـنا سکتور ملاتړ کنفرانس کې د افغانســتان برېښـنا شرکت او یوشـمېر پانګوالـو شرکتونو ترمنـځ د ۹۱۲۳ مېګاواټه په ظرفیت د برېښــنا تولید او برېښنایي زېربناوو جوړولو تفاهمنامې او د ۲۸۴ مېګاواټــه په ظرفیت د برېښـنا تولیــد قراردادونه لاسلیک شول.

پردې سربېره د ازبېکســتان او د افغانستان برېښنا شرکت لـه لوري هم د ۲۵۰ میلیون ډالـرو په پانګونې د سرخان پلخمري ۵۰۰ کیلو ولټ برېښــنا مزي غځولو، د دښــت الوان ســب ستېشــن پراختیا، د ارغندی ســب ستېشن پراختیا او همداراز تر شــیخ مصري سب ستېشن پورې د ۲۲۰ کیلوولټ برېښــنا مزي غځول او د دغه سب ستېشن پراختیا پروژو عملي چارې هم پیل شوې.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی



# په جوزجان ولايت کې د سوداګريز مارکيټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په ۱۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د جوزجان ولايت په مرکز شبرغان ښار کې د ښاروالۍ پرځمکه د سوداګريز مارکيټ د جوړولو طرحه وړاندې شوه. د دې طرحې له مخې خصوصي سکتور د ښاروالۍ پر ۲۲۰۰ متره مربع ځمکه پنځه پوړيز سوداګريز مارکيټ جوړوي چې دوکانونه او د موټرو پارکېنګ به ولري. ياده طرحه د پانګونې بين الوزارتي کمېټې له خوا د تعديل په راوستلو سره د تاييد وړ وبلل شوه او د نهايي تصميم په موخه اقتصادي کميسيون ته راجع شوه.

د پانګونې بين الوزارتي کمېټې غونډې ته د خصوصي سکتور له خوا په هېواد کې د ننه د برېښنايي وسايلو او تجهيزاتو د توليد د فابريکې د جوړولو، په جوزجان ولايت کې د کورنيو چارو وزارت پر ځمکه د خصوصي سکتور له خوا د مارکيټ جوړولو او د يوه خصوصي شرکت له خوا د نوي کابل په ښار کې د پانګونې طرحې وړاندې شوې. له هر اړخيز بحث وروسته اړوندو ادارو ته دنده وسپارل شوه چې يادې طرحې دې په هر اړخيز ډول وڅېړي او خپل راپور دې په ټاکلي وخت د پانګونې بين الوزارتي کمېټې سره شريک کړي.

## اخبار اقتصادی هفته

### امضای قرارداد دو میلیارد دالری برای تولید دو هزار میگاوات برق در افغانستان

یک شرکت خصوصی به‌نام «کام گروپ» با شرکت برشنا قراردادی به ارزش دو میلیارد دالر برای تولید دو هزار میگاوات برق امضا کرده است. به گفته‌ی مسوولان، مدت زمان اجرای این پروژه بین سه تا هفت سال در نظر گرفته شده و قرار است از منابع مختلف چون آب، گاز، باد و حرارت داخلی زمین برق تولید کند.

محمد گل خُلمی، مسوول شرکت کام انرژی، گفت: «ما کار را به گونه عملی آغاز کردیم و شریکان ما با ما آمده‌اند؛ هم هالندی‌ها و هم دنمارکی‌ها در کابل هستند. سروی اولین پروژه سولری ما که ۳۰ میگاوات است در شمال افغانستان برای پارک‌های صنعتی مزارشریف انشاالله به زودی آغاز می‌شود.» مسوولان این شرکت می‌گویند با توجه به ظرفیت بزرگ انرژی بادی در افغانستان، یک‌هزار میگاوات برق از این منبع تولید خواهد شد. آقای خُلمی افزود که هرچند محدودیت‌های بانکی و نبود شبکه‌های معیاری توزیع برق از جمله چالش‌های اساسی در مسیر این پروژه‌ها است، اما این شرکت در جریان کار، ایجاد شبکه‌های برق و سب‌استیشن‌ها را نیز شامل برنامه کرده است.

مسوول شرکت کام انرژی گفت: «یکی از مشکلات کلان انرژی بادی که ما ظرفیت ٦٧ هزار میگاوات را در افغانستان داریم، انتقال پره‌های پکه‌های توربین های بادی است؛ چون اگر ما کوچکترین توربین بادی را به شکل تجارتی‌اش نصب کنیم، دونیم الی سه میگاوات حد اقل الی پنجاه متر طول دارد. ما برای اولین بار می‌خواهیم فابریکه تولید پکه‌های توربین های بادی را در داخل افغانستان ایجاد کنیم تا مشکل ترانسپورت بین‌المللی حل شود.» از سوی دیگر، این شرکت برای نخستین‌بار در افغانستان طرح تولید ۱۰۰ میگاوات برق از حرارت زمین (جیوترمال) را در کابل روی دست گرفته است. برای آغاز آن نیاز به حفر چاه هایی به اندازه‌ی سه هزار متر می‌باشد که با شروع این پروژه، افزون بر تولید برق، برای گرمایش خانه‌ها نیز استفاده خواهد شد. به‌گفته‌ی مسوولان شرکت «کام گروپ»، قرارداد بلاک گاز توتی‌میدان اندخوی که پیش‌تر با شرکت «ایریل-کام انرژی» به امضا رسیده بود، برنامه‌ی کاری آن میان شرکت «ایریل-کام انرژی» و وزارت معادن تأیید شده و پس از این فعالیت های فیزیکی در این بلاک آغاز می‌شود.

### افزایش هشت‌برابری صادرات میوه تازه هرات در سال جاری

اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می‌گوید که در پنج ماه اخیر، نزدیک به ۵۵۰ تُن میوه تازه از این ولایت به چندین کشور از جمله روسیه، قزاقستان، امارات متحده عربی، عراق و عربستان سعودی صادر شده است. بر اساس آمارهای این اتاق، امسال در مقایسه با سال گذشته، صادرات میوه‌های تازه هرات به خارج از کشور نزدیک به هشت برابر افزایش یافته است. میوه‌های صادراتی شامل سیب، آلبالو، آلوچه، تربوز، خربزه و زردآلو می‌شوند.

یوسف امین، آمر اجرایی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات، گفت: «در پنج ماه نخست سال ۱۴۰۴، حدود ۵۴۴ تُن و ۷۲۲ کیلو میوه تازه به ارزش تقریبی ۳۰۰ هزار دالر از طریق ولایت هرات به بازارهای خارجی صادر شده است.»

انتظار می‌رود که امسال بیش از یک هزار تُن میوه تازه از هرات به کشورهای مختلف صادر شود. در حالی که امسال برداشت میوه‌های سردرختی در هرات نزدیک به ۲۰ درصد افزایش یافته است، صادرات این میوه‌ها در مقایسه با سال گذشته نزدیک به هشت برابر بیشتر شده است. به گفته مسوولان محلی در هرات، با بهبود کیفیت میوه‌های تازه این ولایت، فرصت دسترسی به بسیاری از بازارهای جهانی فراهم شده است. بر اساس آمارهای ریاست زراعت و آبیاری هرات، امسال بیش از ۳۰۰ هزار تُن میوه تازه سردرختی در این ولایت برداشت شده است. مسؤلان این اداره می‌گویند که ۲۷ هزار هکتار باغ میوه در هرات وجود دارد.

# د هېواد شمالي ولايتونو ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څلور ورځنی سفر



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په نهمه نېټه د يکشنبې ورځ سهار مهال له کابل څخه د هېواد شمالي ولايتونو ته په سفر روان شو. د دغه سفر پرمهال د افغانستان بانک عمومي رييس نوراحمد اغا، د امارتي شرکتونو لوی رييس مولوي احمد جان بلال او يوشمېر نورو مسوولينو د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ملتيا کوله.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سفر په ترڅ کې د سنبلې مياشتې په لسمه نېټه د يکشنبې ورځ غرمه مهال د سالنگونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه. محترم ملا صاحب د ټولګټو وزارت او قراردادي شرکتونو ترسره شوي کارونه وستايل او هغوی ته يې ټينګار وکړ، چې د روان کال لپاره په پلان کې نيول شوي کارونه د ژمي تر را رسېدو مخکې بشپړ کړي.

اوسمهال د جنوبي سالنګ له لسمې تر ۱۵مې ګالرۍ پورې د بيارغونې کارونه بشپړ شوي او د پاتې برخو کارونه يې هم د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره په چټکۍ سره دوام لري.

د سنبلې مياشتې په نهمه نېټه يکشنبې ورځ له غرمې وروسته محترم ملا عبدالغني برادر او ورسره مل پلاوی د بغلان ولايت غوري سيمنټو فابريکې ته ورسېد او هلته يې د غوري سيمنټو د دربيمې توليدي فابريکې د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې دننه د سيمنټو توليد او په دې برخه کې خودکفايۍ ته د رسېدو لپاره د دې فابريکې پرانيستل مهم وبلل او ويې ويل، په دې سره به د هېواد د سيمنټو اړتيا لويه برخه په کور دننه پوره او صنعت به پراختيا پيدا کړي.

محترم ملا صاحب د غوري سيمنټو فابريکې له مسوولينو وغوښتل څو د يادې فابريکې چارې له منل شوو معيارونو سره سمې په پوره صداقت پرمخ يوسي او له هر ډول کاري او تخنيکي غفلت څخه ډډه وکړي. د غوري سيمنټو پر دربيمې فابريکې ۸۶.۸ ميليون ډالر لګښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې د ملي پراختيا شرکت له لوري بشپړې شي. د غوري سيمنټو فابريکه به د دې دربيمې فابريکې د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سيمنټو د توليد ورتيا پيدا کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د هېواد شمالي ولايتونو ته د خپل سفر په دوهمه ورځ د سنبلې مياشتې په لسمه نېټه دوشنبې ورځ سهار مهال تخار ولايت ته ولاړ او هلته يې د تخار سپين زر سوداګريز ښارګوټي پرانيسته وکړه. محترم ملا صاحب په خدماتي او توليدي اساساتو کې د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور پانګونه مهمه ياده کړه او ويې ويل، پانګونه توليدي ظرفيتونه او صادرات زياتوي، صنعت ته پراختيا ورکوي، کاري فرصتونه رامنځته کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد اقتصادي وده او عوايد زياتيږي.

د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټي کې د غله جاتو، ميوه جاتو، پياز او کچالو، ساختماني توکو او درملو سوداګريز مارکېټونه په پام کې نيول شوي چې ټولټال پرې د عامه خصوصي مشارکت له لارې دوه ميلياره ۴۵۰ ميليون افغانۍ پانګونه کېږي. دغه ښارګوټی په ۶۰ جريبه ځمکه کې جوړيږي چې د پنځو مارکېټونو له جملې يې د غله جاتو مارکېټ ګټې اخيستنې ته وسپارل شو او د پاتې څلورو مارکېټونو د جوړېدو چارې يې پيل شوې. د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټی به په مجموعي ډول تر دوه زره زيات دوکانونه ولري، چې زرګونو هېوادوالو ته به کاري زمينه هم برابره کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ورسره مل پلاوی د هېواد شمالي ولايتونو ته د سفر په ترڅ کې د سنبلې مياشتې په لسمه نېټه د دوشنبې ورځ ماذيګر مهال کندوز ولايت ولاړ او هلته يې د سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو پرانيسته وکړه. محترم ملا صاحب په کندوز ولايت کې د عامه خصوصي مشارکت له لارې د دريو سوداګريزو وادانيو جوړېدل مهم وبلل او ويې ويل، دا به د سيمې پر ټولنيزه هوساينه مثبت تاثير ولري. هغه له اړوندو شرکتونو څخه وغوښتل، چې خپل فعاليتونه د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره په پوره صداقت او شفافيت ترسره کړي. په کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو باندې د عامه خصوصي مشارکت له لارې ۶.۳ ميلياره افغانۍ پانګونه کېږي، چې چارې به يې د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د سفر په دريمه ورځ د سنبلې مياشتې په يوولسمه نېټه له کوکچې سيند څخه هم ليدنه وکړه او په همدې ورځ په جوزجان ولايت کې د دښتې ليلي شهيدانو مزار ته هم ورغی. محترم ملا صاحب او ورسره مل پلاوي د دښتې ليلې شهيدانو ارواح ته دعا وکړه او د اسلامي نظام د اقامې لپاره يې د هغوی قرباني نه هېرېدونکې او بې ساري وبللې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او ورسره مل پلاوی د سنبلې مياشتې په

ABAADI ONLINE WEEKLY

اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه




يوولسمه نېټه د سه شنبې ماښام مهال د سرپل ولايت بلخاب ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان پرانيسته وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت د بلخاب ډبرو سکرو کان کې جوړو شوو مراسمو ته وويل، افغانستان د بيلابېلو طبيعي زېرمو له اړخه غني هېواد دی او دغه زېرمې د اوږدمهاله زېربنايي پروژو د تمويل، د صنعتي پرمختګ او د ملي عوايدو د ستړي سرچينې په توګه له اساسي او ستراتيژيک ارزښت څخه برخمنې دي، چې په مسلکي استخراج سره به يې د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخلو. محترم ملا صحب د بلخاب ډبرو سکرو کان حوزه د هېواد له مهمو او غني زېرمو څخه وبلله او وې ويل، اوسمهال يې په مسلکي ډول د ملي پراختيا شرکت له لوري د استخراج چارې پيل شوې.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ملي پراختيا شرکت له هڅو مننه وکړه او ټرې وې وغوښتل چې د استخراج چارې لا ډېرې معياري، له هر ډول ضايعاتو څخه مخنيوی ترسره او د چاپېريال ساتنې معيارونه په پام کې ونيسي. همدارنګه محترم ملا صاحب د بلخاب ولسوالۍ اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د دوی د اړتيا وړ د ډبرو سکاره به په خورا کم قيمت دوی ته ورکول کېږي او همدارنګه به دوی ته د سړکونو، روغتونونو او نورو برخو کې هم ټولنيز خدمات لا زيات شي.

د ملي پراختيا شرکت د بلخاب ډبرو سکرو کان د مسلکي استخراج لپاره اوسمهال شاوخوا ۱۰۰ صوفونه کيندلي او دوه زره هېوادوال پکې په مستقيم ډول په کار مصروف دي. د دغه کان د استخراج کلنۍ ظرفيت ۵۰۰ زره ټنه اټکل شوی دی. له دې کان څخه استخراج شوي د ډبرو سکاره به په کورنيو فابريکو کې د انرژۍ توليد او د صنعت د پراختيا ترڅنګ د هېواد واردات هم زيات کړي او د کاري فرصتونو په زياتولو سره به د بې‌وزلۍ کچه راټيټه او په لويه کې به د هېواد اقتصاد ورسره پياوړی شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او ورسره مل پلاوی د هېواد شمالي ولايتونو ته له خپل څلور ورځني سفر وروسته د روانې مياشتې د څهارشنبې ماښام مهال بېرته کابل ته راستون شو.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۸,۲۰؋ | ۶۸,۲۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۲؋ | ۲۳۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۶۶؋ | ۰,۶۷؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۸۰,۲۶؋ | ۸۰,۳۲؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۲؋ | ۰,۸۲؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۷۴؋ | ۷۷۴؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲,۵۶؋ | ۹۲,۶۲؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۱۸؋ | ۱۸,۱۹؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۵۷؋ | ۱۸,۵۸؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۵۷؋ | ۹,۵۷؋ |

